بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي ریاست

د تحریراتو آمریت

د متحدالمآلونو څانګه

متحدالمآل نمبر: ۲۲

تاریخ: ۲۲/ جمادی الأولی/ ۱٤٤٥ هق
مصادف: ۱۵/قوس/ ۱٤۰۲ هش

☐ عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

و بعد: د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۲٤) مورخ ۱٤٤٤/۳/۱۰هق په تعقیب احتراماً لیکو:

د کابل ولایت د څلورو زونونو ابتدائیه محکمو استهداء رارسیدلې چې خلاصه یې داسې ده: د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۲٤) په اساس ټولو محکمو ته هدایت شوی وو چې: د ځمکې دعوه چې کله محکمې ته راشي محکمه به اولاً د قضایای امارت ریاست څخه د مدعی بها ځمکې په باره کې تحریري معلومات غواړي او دا اطمینان به حاصلوي چې مدعی بها ځمکه خو به امارتي نه وي، کله چې دا معلومه شوه چې ځمکه امارتي نه ده، محکمه دې په موضوع کې شرعي فیصله وکړي او که ځمکه امارتي ثابته شوه په دې صورت کې دې د امارتي ځمکو د غصب څخه د مخنیوي په باره کې اصولي اجراآت تر سره شي، د یاد هدایت مطابق د کابل ولایت د زونونو ابتدائیه محکمو په سلګونو موضوعات قضایای امارت ریاست ته استولي دي خو تر ډېر وخت وروسته بیا هم په اړه یې د قضایای امارت ریاست لخوا معلومات محاکمو ته نه دي ورکړل شوي.

دا چې د پورته ترتیب په عملي کولو کې د خلکو موضوعات ډېر ځنډېږي ددغه ځنډ څخه د مخنیوي لپاره موضوع د سترې محکمې د عالي شورا مجلس مورخ مورخ ۸/جمادی الأولی/۱٤٤٥هق مصادف ۱/قوس/۱٤۰۲هش ته وړاندې شو په اړه یې عالي شورا د تصویب نمبر (۱۱) د څلورمې پریکړې د لومړي جزء په اساس داسې هدایت وکړ:

((کله چې د مځکې دعوی محکمې ته راشي نو مربوطه محکمه دې د مځکې د هرې موضوع په اړه د قضایای امارت ریاست څخه د معلوماتو غوښتنه نه کوي بلکه یواځې د مځکې د هغه دعوې په اړه دې د قضایای امارت څخه معلومات غواړي چې قاضي ته دا ویره وي چې دغه مځکه خو به دولتي نه وي، کله چې د مکتوب په توسط د قضایای امارت ریاست څخه د مځکې په اړه معلومات وغوښتل شوه او د قضایای امارت ریاست تر یوې میاشتې پورې د مځکې په اړه محکمې ته معلومات ورنکړل، محکمه دې موضوع تر اصولي اجراآتو لاندې ونیسي.

او د مځکو کوم موضوعات چې د معلوماتو ترلاسه کولو په موخه د محاکمو لخوا د قضایای امارت ریاستونو ته استول شوي دي او جواب یې تر اوسه نه دی راغلی د هغه موضوعاتو په اړه دې هم د پورته ترتیب موافق اجراآت تر سره شي.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحریر شوی هدایت ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه مطابق اصولي اجراآت تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشید "سعید"

د سترې محکمې

د دارالانشاء عمومي رئیس

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

۲۲/ ۵/ ۱٤٤٥ هق

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
Post box: 1989
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه ، کابل- افغانستان
د معاونیت تیلفون : ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس : ۱۹۸۹
ایمیل: darulinsha@gmail.com
ویب سایت: www.supremecourt.gov.af